
# دبزگرلور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوايي لاندی

لاس و پښــې چــاودي مــخ ســپېره شــونډي وچــي يــو کــوچنی پېټـی غـنم يـې پـر شـا را اړولـي وو او پـه سـتمي د کـور پـر لـوري را روان دی، بشـپړي نهـه مياشـتي يـې خـواري کښـلې ده او منتونـه يـې وړي دي، تـر څـو چـي پـه اخـري دوبـي (۹۰) منـه غـنم لـه بزګـری نـه ورغلـل پـه دې کـي يـې (۹) منـه غـنم ملا صـاحب تـه زکـات ورکـړل، (۳۰) منـه يـې پـش تـه ورکـړل او څلـور منـه هـم (رقبـه) ترېنـه يـووړل، (۲۰) منـه يـې د هغـو دوو زرو افغـانيو پـه سـود کـي ورکـړل کـومي چـي د ده د پـلار د مـرګ د خيـرات او اسـقاط لپـاره د يـوه سـودخور نـه پـه شـپېته منـه ګټـه راوړي وې، پـه کـور کـي د ده ماينـه او مـور او څلـور ماشـومان د ده لاره څـاري او ماشـومان يـې لـه کـوره راوتلي او د هغـې لاري خواتـه پـه ډېـره اسـره ګـوري، پـر کومـه لاره چـي د دوی پـلار اوس کورتـه راځـي او د رشـې غـنم راوړي، د ده مـور او مـاينې د سږ کـال د محصـولاتو پـه شـاوخوا کـي خـورا ښـې خـوږې کيسـې کـولې او هيلـه يـې وه چـي ګونـدي سږ بـه يـو څـو ورځـي پـه نـس مـاړه سي، پـه دې وخـت کـي ماشـومان يـو پـه بـل پسـې د کـور لـوري تـه راځغلي او ناري وهي چي بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزګـر هـم پېټـی پـه شا پـه کـور راننـووت او پېټـی يـې د خوني لـه مخـه کښېښـود، مـور او ماينې پـه الوتـو بنـو ترېنـه د رشې احـوال پوښـته چـي پـه دې وخـت کـي يـو سـړی تـرازو او کـاني پـه لاس پـه انګـړ راکښـېووت او پـه کلک ږغ يـې ورتـه وويـل چـي: "تا خـو ويـل پـر راشـه بـه

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنم د پور په عوض کي درکړم او تا ټوله غنم خپل کورته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ویل یې چي دا څلور پنځه میاشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لرې ژر شه غنم راوتله، مور یې چیغي کړې چي دا څو دانې چي ته یوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وویل خاوري!"

سم د لاسه یې اندی راواړاوه او ټوله غنم یې ځیني وتلل او په پای کي یې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وویل چي: "دونه منه خو لا نور هم درباندي پاته سول هغه به څرنګه سي؟" خوار بزګر په داسي حال کي چي له ځواشینۍ نه یې پر ستوني درد وو، تش جیوال و ځانډه او یوې خوا ته یې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي یې وویل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به یوه لپه نیني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او یو څه شفتل یې په پلو کي راوړه او له مالګي سره یې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې تر ډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره یې په ژړا پیل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډیانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له یوې خوا د ده ګاونډیانو هم دغه راز د نادارۍ تکلیف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه باندي یو دوې کاسې اوړه ترېنه پور کړي وو هغه یې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار یې بایللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر یې وکړ، له ځانه سره یې فیصله وکړه چي د یوي غویي چي د ده وروستنۍ او یواځنۍ دا رایي وه د هغه په مرسته یې د خلکو بزګري کوله د عیال دقوت او لایموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي یې د مور او مايني رضايت هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چې د عيال د ژمي او مني قتغ سي او په خپله لځي پښې پړانګې کالي بلې منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کې شپږ مياشتې د خاورو او ختو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځې شپږ افغانۍ ورکولې، چې درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پای کې د ده ټوله ګټه (۴۲۸) افغانۍ سوه، چې په (۳۰۰) افغانۍ يې ځانته پڼې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دی شپږ مياشتې په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او ښه زړه د کور لوري ته راروان سو چې د کور په وره راننووت او لوز او ماينې يې چيغې کړې.

وروسته ورته څرګنده سوه چې مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په مني لا مړه سوي دي، يو ګړی وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چې: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مې ورکړي دي چې قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کېږي او هم مې ستا پر ځای په دې شپږو مياشتو کې (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړې دي، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دي کولې، ټول غمونه دې پر موږ راايله کړي وو، اوس دستي زما پور چې (۷۴۶) افغانۍ کېږي راکړه" ځکه چې ده دا ټول رقم پر يو ځای نه شو تاديه کولای نو محکمې ته يې کښې کړ او بندي شو چې بيا د دې خوار او د ده د کالۀ احوال چا وا نه خيست[10]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

---

[10] اوسني ليکوال لومړی ټوک

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**